# الواقعة

مکی سورة دی ۹۶ آیتونه لری

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

إِذَا وَقَعَتِ ٱلۡوَاقِعَةُ ﴿١﴾

کله چې( د قیامت عظیمه) واقعه رامنځته شی.

لَيۡسَ لِوَقۡعَتِهَا كَاذِبَةٌ ﴿٢﴾

نه يې څوک دروغ ګڼلی شی( او نه يې مخه نیولی شی).

خَافِضَةٌ رَّافِعَةٌ ﴿٣﴾

هرڅه به لاندې باندې کړی( د دنيا ډير مستکبرين او ظالمان به خوار او ذليل او ډير کمزوری او مظلوم مؤمنان به د نيکمرغۍ لوړو مدارجو ته ورسوی او د عزت او ذلت وروستۍ فيصله به اعلان شی).

إِذَا رُجَّتِ ٱلۡأَرۡضُ رَجّٗا ﴿٤﴾

کله چې ټوله ځمکه په شدت سره ولرزيږی.

وَبُسَّتِ ٱلۡجِبَالُ بَسّٗا ﴿٥﴾

او غرونه ټوټه ټوټه شی.

فَكَانَتۡ هَبَآءٗ مُّنۢبَثّٗا ﴿٦﴾

او د ګرد او غبار په شان والوزی.

وَكُنتُمۡ أَزۡوَٰجٗا ثَلَٰثَةٗ ﴿٧﴾

او تاسو( ټوله انسانی ټولنه) به په دریو ډلو وویشل شی.

فَأَصۡحَٰبُ ٱلۡمَيۡمَنَةِ مَآ أَصۡحَٰبُ ٱلۡمَيۡمَنَةِ ﴿٨﴾

یوه به د نیکمرغه او ممتازه خلکو ډله وی. څه بیان درته وکړو د دغې نیکمرغې ډلې( د خوښۍ او هوسایۍ)؟

وَأَصۡحَٰبُ ٱلۡمَشۡـَٔمَةِ مَآ أَصۡحَٰبُ ٱلۡمَشۡـَٔمَةِ ﴿٩﴾

بله ډله د بد مرغو کسانو ده، څه بیان درته وکړو (د دوی د بدبختۍ او شقاوت؟)

وَٱلسَّٰبِقُونَ ٱلسَّٰبِقُونَ ﴿١٠﴾

بله ډله د ډیرو لوړو مرتبو او درجو څښتنان( پیغمبران، صدیقین، شهداء او صالحین) دی.

أُوْلَٰٓئِكَ ٱلۡمُقَرَّبُونَ ﴿١١﴾

دوی به (د الله تعالی حضور ته) ډیر مقرب او د ځانګړی امتیاز لرونکی وی.

فِي جَنَّٰتِ ٱلنَّعِيمِ ﴿١٢﴾

له نعمتونو څخه په ډکو جنتونو کې به اوسیږی.

ثُلَّةٞ مِّنَ ٱلۡأَوَّلِينَ ﴿١٣﴾

په دوی کې به لوی شمیر د ټولو امتونو سابقین الاولین شامل وی (چې په لومړۍ مرحله کې یې د خپل پیغمبر دعوت ته لبیک ویلی دی. پیغمبر صلی الله علیه وسلم وفرمایل: د قیامت په ورځ به هغه کسان له ټولو نه وړاندی د الله تعالی د سیوری لاندی ځای ونیسی، چې حق ورته وړاندې شوی او منلی یې و، حق ترې غوښتل شوی او اداء کړی یې و، او د نورو په حق کې یې فیصله هماغسې وه لکه د خپل ځان په حق کې یې چې کوله).

وَقَلِيلٞ مِّنَ ٱلۡأٓخِرِينَ ﴿١٤﴾

او لږ شمیر له وروستیو ولسونو( به هم پکې شامل وی).

عَلَىٰ سُرُرٖ مَّوۡضُونَةٖ ﴿١٥﴾

په زربافتی تختونو

مُّتَّكِـِٔينَ عَلَيۡهَا مُتَقَٰبِلِينَ ﴿١٦﴾

به یو بل ته مخامخ ناست وی.

يَطُوفُ عَلَيْهِمْ وِلْدَانٌ مُّخَلَّدُونَ ﴿١٧﴾

**هميشنی هم عمره زلميان به يې د خدمت لپاره ګرځی راګرځی.**

بِأَكْوَابٍ وَأَبَارِيقَ وَكَأْسٍ مِّن مَّعِينٍ ﴿١٨﴾

**د پاکو او خالصو شرابو له ډکو ګيلاسونو، چکونو او جامونو سره.**

لَّا يُصَدَّعُونَ عَنْهَا وَلَا يُنزِفُونَ ﴿١٩﴾

**( داسې شراب چې) په څښلو کې يې نه سردردی شته، نه نيشه او نه بيخودی.**

وَفَاكِهَةٍ مِّمَّا يَتَخَيَّرُونَ ﴿٢٠﴾

**او د دوی د خوښې هر ډول ميوې به ورته وړاندې کيږی.**

وَلَحْمِ طَيْرٍ مِّمَّا يَشْتَهُونَ ﴿٢١﴾

**او د دوی له اشتها او ارزو سره سم د هر ډول مارغانو غوښې.**

وَحُورٌ عِينٌ ﴿٢٢﴾

**او د ښکلو غټو سترګو لرونکې حورې.**

كَأَمْثَالِ اللُّؤْلُؤِ الْمَكْنُونِ ﴿٢٣﴾

**لکه پوښل شوې مرغلرې.**

جَزَاءً بِمَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴿٢٤﴾

**دا ټول( نعمتونه) د دوی د ښو او نيکو اعمالو اجر او مکافات دی.**

لَا يَسْمَعُونَ فِيهَا لَغْوًا وَلَا تَأْثِيمًا ﴿٢٥﴾

**(په جنت کې به) نه عبث او خوشې خبرې اوری او نه به له ګناه ډکې خبرې( نه به چغلی او غيبتونه وی، نه به لافې شافې او نه به پيغورونه).**

إِلَّا قِيلًا سَلَامًا سَلَامًا ﴿٢٦﴾

**( او د يوې کاملاً شريفې او مهذبې ټولنې پحيث به )له هرې خوا د خوږو خبرو او سلام سلام ازانګې په فضا کې خپرې وی.**

وَأَصۡحَٰبُ ٱلۡيَمِينِ مَآ أَصۡحَٰبُ ٱلۡيَمِينِ ﴿٢٧﴾

او ښی اړخی( نیکمرغه کسان)، څومره د لوړې مرتبې لرونکی دی ښی اړخی.

فِي سِدۡرٖ مَّخۡضُودٖ ﴿٢٨﴾

دوی به د (بې اغزیو) سدر ونو د سیورو لاندې وی.

وَطَلۡحٖ مَّنضُودٖ ﴿٢٩﴾

د کیلو د ډکو ځانګو لاندې.

وَظِلّٖ مَّمۡدُودٖ ﴿٣٠﴾

چې سیوری یې پراخ او هره خوا خپور دی.

وَمَآءٖ مَّسۡكُوبٖ ﴿٣١﴾

او رڼې اوبه یې تر څنګ روانې دی.

وَفَٰكِهَةٖ كَثِيرَةٖ ﴿٣٢﴾

او هر ډول تاندې او خوندورې میوې( به ورته تیارې وی).

لَّا مَقۡطُوعَةٖ وَلَا مَمۡنُوعَةٖ ﴿٣٣﴾

چې نه یې( له موسم سره) خلاصون شته او نه یې( په را اخستلو کې) کوم خنډ او تکلیف.

وَفُرُشٖ مَّرۡفُوعَةٍ ﴿٣٤﴾

او د دوی عالی مرتبه میرمنې( چې له ایمان او صالحو اعمالو سره وفات شویدی).

إِنَّآ أَنشَأۡنَٰهُنَّ إِنشَآءٗ ﴿٣٥﴾

مونږ به( دغه میرمنې بیرته) په ځانګړی خلقت سره پیدا کړو.

فَجَعَلۡنَٰهُنَّ أَبۡكَارًا ﴿٣٦﴾

( که دوی په زړښت وفات شوی هم وی خو اوس به )تل ترتله پیغلې او ښکلې وی.

عُرُبًا أَتۡرَابٗا ﴿٣٧﴾

له خپلو ښښتنانو سره به همزولي او مينه کوونکي وی.( که له يوې ميرمنې نه په دنيا کې څو تنه ښښتنان پاتې وی او په آخرت کې ټول په جنت کې وی، نو دغې جنتی ميرمنې ته به اختيار ورکړی شی چې تر ټولو له ښو اخلاقو لرونکی ښښتن سره پاتې شی).

لِّأَصۡحَٰبِ ٱلۡيَمِينِ ﴿٣٨﴾

( دغه ټول نعمتونه) د ښی اړخو( نيکمرغانو) لپاره دی.

ثُلَّةٞ مِّنَ ٱلۡأَوَّلِينَ ﴿٣٩﴾

( د ښی اړخو يا اصحاب اليمين شمير به زيات وی) څه شمير به د پخوانيو امتونو خلک وی.

وَثُلَّةٞ مِّنَ ٱلۡأٓخِرِينَ ﴿٤٠﴾

او څه شمير به د وروستيو هم.

وَأَصۡحَٰبُ ٱلشِّمَالِ مَآ أَصۡحَٰبُ ٱلشِّمَالِ ﴿٤١﴾

او کيڼ اړخی( بدبختان)، څه بيان درته وشی د کيڼ اړخو د بدبختی.

فِي سَمُومٖ وَحَمِيمٖ ﴿٤٢﴾

چې د سوزوونکې سيلۍ او جوشيدلو اوبو ترمنځ به يې ژوند وی.

وَظِلّٖ مِّن يَحۡمُومٖ ﴿٤٣﴾

د تور غليظ لوګی د چتر لاندې.

لَّا بَارِدٖ وَلَا كَرِيمٍ ﴿٤٤﴾

چې نه به يخ وی او نه به آرام ببنونکی.

إِنَّهُمۡ كَانُواْ قَبۡلَ ذَٰلِكَ مُتۡرَفِينَ ﴿٤٥﴾

دوی هماغه دی چې دنيوی ژوند يې په ناز نعمت او سرکشۍ کې تيراوه.

وَكَانُواْ يُصِرُّونَ عَلَى ٱلۡحِنثِ ٱلۡعَظِيمِ ﴿٤٦﴾

او په لويو لويو ګناهونو( کفر، شرک او له الهی حدودو نه په بغاوت) ټينګ ولاړ وو.

وَكَانُواْ يَقُولُونَ أَئِذَا مِتۡنَا وَكُنَّا تُرَابٗا وَعِظَٰمًا أَءِنَّا لَمَبۡعُوثُونَ ﴿٤٧﴾

او تل به يې ويل: کله چې مړه شو او هډوکی مو له خاورو سره خاورې شی، نو آيا بيا به راژوندی کيږو؟

أَوَءَابَآؤُنَا ٱلۡأَوَّلُونَ ﴿٤٨﴾

او زمونږ پخوانی پلرونه( نیکونه) به هم راژوندی کیږی.

قُلۡ إِنَّ ٱلۡأَوَّلِينَ وَٱلۡأٓخِرِينَ ﴿٤٩﴾

ورتهووایه: بیشکه چې ټول لومړنی او وروستنی( به راژوندی شی).

لَمَجۡمُوعُونَ إِلَىٰ مِيقَٰتِ يَوۡمٖ مَّعۡلُومٖ ﴿٥٠﴾

ټول به یوه ورځ په ټاکلی وخت راټول کړی شی.

ثُمَّ إِنَّكُمۡ أَيُّهَا ٱلضَّآلُّونَ ٱلۡمُكَذِّبُونَ ﴿٥١﴾

بیا به تاسو ای دروغجنو گمراهانو!

لَأٓكِلُونَ مِن شَجَرٖ مِّن زَقُّومٖ ﴿٥٢﴾

له( بد خونده مایع لرونکې) زقوم ونې څخه وخوری.

فَمَالِـُٔونَ مِنۡهَا ٱلۡبُطُونَ ﴿٥٣﴾

او خپلې خیټې به وربانده ډکې کړی.

فَشَٰرِبُونَ عَلَيۡهِ مِنَ ٱلۡحَمِيمِ ﴿٥٤﴾

او د پاسه به وربانده جوشیدلې اوبه وڅښی.

فَشَٰرِبُونَ شُرۡبَ ٱلۡهِيمِ ﴿٥٥﴾

او د ځښاک طریقه به مو جل وهلو اوښانو ته ورته وی .

هَٰذَا نُزُلُهُمۡ يَوۡمَ ٱلدِّينِ ﴿٥٦﴾

همدغه به ستاسو لپاره د قیامت د ورځې میلمستیا وی.

نَحۡنُ خَلَقۡنَٰكُمۡ فَلَوۡلَا تُصَدِّقُونَ ﴿٥٧﴾

تاسو خو( لومړی ځل) مونږ پیدا کړی یی، نو ولې( په دویم ځل راژوندی کیدو) باورمن نه یاست؟

أَفَرَءَيْتُم مَّا تُمْنُونَ ﴿٥٨﴾

**آیا (د هغې نطفې له تدریجي مراحلو نه) خبر یاست چې په رحم کې يې تویوئ؟**

ءَأَنتُمْ تَخْلُقُونَهُۥٓ أَمْ نَحْنُ ٱلْخَٰلِقُونَ ﴿٥٩﴾

**آیا( تاسو له هغې نه د یوه کامل انسان) پیدا کوونکی یاست، که مونږ يې پیدا کوو؟**

نَحْنُ قَدَّرْنَا بَيْنَكُمُ ٱلْمَوْتَ وَمَا نَحْنُ بِمَسْبُوقِينَ ﴿٦٠﴾

**همدا مونږ یو چې ستاسو لپاره مو مرګ مقدر کړی،او هیڅوک( زمونږ د دغه فرمان د تنفیذ)مخه نشی نیولی.**

عَلَىٰٓ أَن نُّبَدِّلَ أَمْثَٰلَكُمْ وَنُنشِئَكُمْ فِى مَا لَا تَعْلَمُونَ ﴿٦١﴾

**( مرګ مو د دې لپاره مقدر کړی) چې غواړو ستاسو په ځای نور خلک راولو، او دا هم کولی شو چې تاسو بیا په یوه داسې نوی شکل راپیدا کړو چې تاسو وربانديې نه پوهیږئ.**

وَلَقَدْ عَلِمْتُمُ ٱلنَّشْأَةَ ٱلْأُولَىٰ فَلَوْلَا تَذَكَّرُونَ ﴿٦٢﴾

**او تاسو خو خپل لومړنی پیدایښت( اوسنی جهان) پیژنئ، نو ولې عبرت نه اخلئ( او د راتلونکی جهان په راتګ باور نه کوئ)؟**

أَفَرَءَيْتُم مَّا تَحْرُثُونَ ﴿٦٣﴾

**خپلې کر کیلې ته وګورئ.**

ءَأَنتُمْ تَزْرَعُونَهُۥٓ أَمْ نَحْنُ ٱلزَّٰرِعُونَ ﴿٦٤﴾

**آیا تاسو يې رازرغونوئ که مونږ؟ ( تاسو خو تخم وشیندئ خو په ځمکه کې يې پالل او زرغونول او له هغه نه مکمله غله دانه جوړول د الله تعالی کار دی.)**

لَوْ نَشَآءُ لَجَعَلْنَٰهُ حُطَٰمًا فَظَلْتُمْ تَفَكَّهُونَ ﴿٦٥﴾

**( ستاسو د کرلی کښت ساتنه او پالنه هم زمونږ کار دی)که مونږ وغواړو هغه به( په کوم آفت ) داسې خس خاشاک او ټوټه ټوټه کړو، چې تاسو به ورته حیران( او لاس تر زنی کښینئ).**

إِنَّا لَمُغْرَمُونَ ﴿٦٦﴾

**( پخپل کړاو او تکلیف به خفه او پریشانه شئ او وایئ به چې په دې فصل کې ) مونږ ته سخت زیان ورسید.**

بَلۡ نَحۡنُ مَحۡرُومُونَ ﴿٦٧﴾

بلکه( له کې دوړې) هم بې برخې شو.

أَفَرَءَيۡتُمُ ٱلۡمَآءَ ٱلَّذِي تَشۡرَبُونَ ﴿٦٨﴾

خپلو د څښاک( او د ژوند د سمون لويې وسيلې) اوبو ته په دقت سره وګورئ.

ءَأَنتُمۡ أَنزَلۡتُمُوهُ مِنَ ٱلۡمُزۡنِ أَمۡ نَحۡنُ ٱلۡمُنزِلُونَ ﴿٦٩﴾

آيا تاسو هغه له بارانی وريځو نه راښکته کوئ که مونږ يې رانازلوو؟

لَوۡ نَشَآءُ جَعَلۡنَٰهُ أُجَاجٗا فَلَوۡلَا تَشۡكُرُونَ ﴿٧٠﴾

که مونږ وغواړو هغه به تروې ترخې کړو، نو ولې شکر نه اداء کوئ؟

أَفَرَءَيۡتُمُ ٱلنَّارَ ٱلَّتِي تُورُونَ ﴿٧١﴾

هغه اور ته وګورئ چې تاسو يې بلوی.

ءَأَنتُمۡ أَنشَأۡتُمۡ شَجَرَتَهَآ أَمۡ نَحۡنُ ٱلۡمُنشِـُٔونَ ﴿٧٢﴾

آيا تاسو د هغه ونه پيدا کړې که مونږ پيدا کړې ده؟

نَحۡنُ جَعَلۡنَٰهَا تَذۡكِرَةٗ وَمَتَٰعٗا لِّلۡمُقۡوِينَ ﴿٧٣﴾

مونږ دغه( دنيوی اور د دوزخ د اور د رايادولو لپاره) د پند او عبرت، او د مساپرانو د ګټې اخستلو يوه وسيله ټاکلې ده( او خلکو ته دا يادګيرنه هم ورکوی، هغه مقتدر ذات چې له شنې ونې نه اور پيدا کولی شی، د قيامت په ورځ د مړو په بيا راژوندی کيدو هم پوره قدرت لری).

فَسَبِّحۡ بِٱسۡمِ رَبِّكَ ٱلۡعَظِيمِ ﴿٧٤﴾

نو د خپل با عظمته رب په نوم تسبيح ووايه.

﴿فَلَآ أُقۡسِمُ بِمَوَٰقِعِ ٱلنُّجُومِ ٧٥﴾

د ستورو په مقامونو دې زما قسم وی.

﴿وَإِنَّهُۥ لَقَسَمٞ لَّوۡ تَعۡلَمُونَ عَظِيمٌ ٧٦﴾

او که پوهیږئ نو دا ډیر لوی قسم دی.

﴿إِنَّهُۥ لَقُرۡءَانٞ كَرِيمٞ ٧٧﴾

بیشکه دا قرآن د ډیر احترام او ارزښت وړ دی.

﴿فِي كِتَٰبٖ مَّكۡنُونٖ ٧٨﴾

د( لوح محفوظ) په کتاب کې له هر ډول تحریف او تغیر نه مصؤن دی.

﴿لَّا يَمَسُّهُۥٓ إِلَّا ٱلۡمُطَهَّرُونَ ٧٩﴾

یوازې هغه سپیڅلی کسان ورته باید لاس وروړی( چې له هر ډول کثافاتو نه پاک وی).

﴿تَنزِيلٞ مِّن رَّبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ٨٠﴾

د کائناتو د رب له لوری نازل شوی دی.

﴿أَفَبِهَٰذَا ٱلۡحَدِيثِ أَنتُم مُّدۡهِنُونَ ٨١﴾

نو آیا تاسو د دغه حقیقت( او د دغه عظیم الشأن قرآن) په مقابل کې غفلت او بې اعتنایی کوئ.

﴿وَتَجۡعَلُونَ رِزۡقَكُمۡ أَنَّكُمۡ تُكَذِّبُونَ ٨٢﴾

او د قرآن تکذیب د خپلې روزئ وسیله ګڼئ( او فکر کوئ چې د قرآنی دعوت په کامیابی سره به دنیوی امتیازات له لاسه ورکړی).

فَلَوۡلَآ إِذَا بَلَغَتِ ٱلۡحُلۡقُومَ ﴿٨٣﴾

نو کله چې ستاسو د یوه( دوست او خپلوان) سا، ستونی ته راورسی،

وَأَنتُمۡ حِينَئِذٖ تَنظُرُونَ ﴿٨٤﴾

او تاسو په غړیدلو سترګو ورته ګوری.

وَنَحۡنُ أَقۡرَبُ إِلَيۡهِ مِنكُمۡ وَلَٰكِن لَّا تُبۡصِرُونَ ﴿٨٥﴾

او مونږ هغه محتضر ته ستاسو نه ډیر نږدې یو خو تاسو یې نه وینی.

فَلَوۡلَآ إِن كُنتُمۡ غَيۡرَ مَدِينِينَ ﴿٨٦﴾

نو که تاسو له مکافات او مجازات نه منکر یاست( د قیامت راتګ هم نه منی ).

تَرۡجِعُونَهَآ إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ ﴿٨٧﴾

( او د خپل قوت په ادعا کې) رښتونی یاست، دغه ستونی ته رسیدلی روح( د محتضر بدن ته) بیرته راوګرځوی.

فَأَمَّآ إِن كَانَ مِنَ ٱلۡمُقَرَّبِينَ ﴿٨٨﴾

که دغه مړ شوی انسان د الله تعالی دربار ته مقرب وی.

فَرَوۡحٞ وَرَيۡحَانٞ وَجَنَّتُ نَعِيمٖ ﴿٨٩﴾

د نعمتونو په ډک جنت کې به یې کامل راحت او هوسایی په برخه وی.

وَأَمَّآ إِن كَانَ مِنۡ أَصۡحَٰبِ ٱلۡيَمِينِ ﴿٩٠﴾

او که له ښی اړخو( نیکمرغانو) څخه وی.

فَسَلَٰمٞ لَّكَ مِنۡ أَصۡحَٰبِ ٱلۡيَمِينِ ﴿٩١﴾

**( ورته به ویل کیږی چې) په تا دې سلام وی، د اصحاب یمین له لوری.**

وَأَمَّآ إِن كَانَ مِنَ ٱلۡمُكَذِّبِينَ ٱلضَّآلِّينَ ﴿٩٢﴾

**خو که د گمراهانو او انکار کوونکو څخه وی.**

فَنُزُلٞ مِّنۡ حَمِيمٖ ﴿٩٣﴾

**نو د جوش اوبو میلمستیا به یې په برخه وی.**

وَتَصۡلِيَةُ جَحِيمٍ ﴿٩٤﴾

**او دوزخ ته به ورغورځول کیږی.**

إِنَّ هَٰذَا لَهُوَ حَقُّ ٱلۡيَقِينِ ﴿٩٥﴾

**( د دغو دریوارو ډلو په باب بیان شوی امتیازات) کاملاً حق دی.**

فَسَبِّحۡ بِٱسۡمِ رَبِّكَ ٱلۡعَظِيمِ ﴿٩٦﴾

**نو د خپل با عظمته رب نوم په تسبیح او ستاینه یاد کړه .( کله چې دغه مبارک آیت نازل شو، پیغمبر صلی الله علیه وسلم امر وکړ چې د رکوع په تسبیح کې یې شامل کړئ، او د هر لمانځه په رکوع کې ووایئ:« سبحان ربی العظیم». او کله چې « سبح اسم ربک الاعلی» نازل شو نو امر یې وکړ چې د سجدې په تسبیح کې یې شامل کړئ او په هره سجده کې ووایئ: «سبحان ربی الاعلی»).**

**« تمت سورة الواقعة بفضل الله رب العالمین»**

**====================**